**د افغانســـتان اســـلامي امارت**
**د ارشـــاد، حج او اوقافو وزارت**
**دمساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**
**دارشاد او دعوت آمریت**
**دخطبو دتنظیم عمومي مدیریت**

---

**دجمعې دخطبې لاربنود مؤرخ:۱۴۴۳/۶/۳هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۱۰/۱۷هجری شمسي**

# د یتیمانو پالنه او دوی سره مرسته تنها د نظام(امارت)مسئولیت نه دی؛ بلکې د دوی اولیاء او عام ولس هم په دې کې لوی مسئولیت لري

الحمدلله الذي أمر بالإحسان إلى الأيتام، ووعد من أحسن إليهم بالجنان، والصلاة والسلام علي سيدنا محمد، وآله وأصحابه أهل الفوز والرضوان ، أما بعد :

فقد قال الله تعالى في محكم كتابه وهو أصدق القائلين:{وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالاً فَخُورًا} النساء : ۳۶

و قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا)[صحيح البخارى]

## د یتیم تعریف:

یتیم هغه ماشوم ته ویل کیږي چې پلار یي مړ شوی وي او بلوغ ته نه وي رسیدلي.

(قال في الْأَصْلِ وَالْيَتِيمُ كُلُّ من مَاتَ أَبُوهُ ولم يَبْلُغْ الْحُلُمَ غَنِيًّا كان أو فَقِيرًا) [البحر الرائق]

یتیم که څه هم د پلرني ناز او نعمت څخه محروم وي؛ خو د الله تعالی له رحمته محروم نه دی او د الله لطف او مهرباني د یتیم شامل حال ده.

په افغانستان کې یتیمان د ټولو هغو ماشومانو څخه عبارت دي؛ چې خپل پلرونه یې داشغال پر وخت په مقدس جهاد کې شهیدان شوي وي یا دا چې پلرونه یې د پخواني رژیم په صفوفو کې وژل شوي وي او یا دا چې پلرونه یې په طبعي او نورو حوادثو کې مړه شوي وي.

اسلامي ټولنه له یو بل سره ملاتړې ټولنه ده، دا ټولنه د یوه واحد بدن حیثیت لري کله چې یو غړی له هغه څخه په درد شي، نور غړي هم بې خوابې او درد ته رابولي او الله تعالی د ټولو حقوقو په ځانګړې توګه د بیوزلانو لکه د کونډو او یتیمانو د حقونو ساتنه کړې ده.
الله تعالی د یتیم لپاره د ښیګنو سپارښتنه کړې ده، ترڅو د یوازې والی او تنهایئ احساس ونه کړي؛ بلکې الله تعالی د ده حقونه ساتلي او څوک چې د یتیم حق په ظلم و خوري، ګویا چې په خپله خیټه کې یې اور واچولو.
د اسلام مبارک دین د یتیمانو سره مرسته او کومک او دهغوی په پالنه باندې ټینګارکړی دی.

داسلام مبارک دین له نظره د یتیمانوسره مرسته او دهغوی پالنه ډیری دنیوي او اخروي ګټې لري، او یتیمانو ته نه پاملرنه بدې پایلې لري.

## د یتیم پالنې تاریخچه:

د یتیمي ستونزه د طبیعی او ټولنیزو حالاتو زیږنده ده او له پخوا نه په بشری ټولنو کی مطرح ده او ډیر تاریخي شواهد شته چې د یتیمانو او بی سرپرسته انسانانو حالت ته پاملرنه کیده ، دا چې انسان د عقل او عاطفی لرونکی دی نو د یتیمانو داکرام او ترحم کیسی هم له پخوا نه را نقل شویدي همدارنګه د نړۍ په ټولو ادیانو کی د یتیم پالنې په

هکله مطالب ذکر شوی او وربandی تاکید شویدی د یتیم او دیتیمی موضوع او ورسره نیکی کول په ټولو الهی ادیانو کی ریښنی لري ، ځینو پیغمبرانو لکه حضرت موسی او حضرت عیسی په کلکه سره د یتیمانو له

حقوقو څخه پلوي کوله او په یتیمانو باندی ظلم یی له کبیره ګناهونو څخه باله، د اسلام نه مخکی او د جاهلیت په دوره کی د یتیمانو مالونو په چورولو او پردوی باندی په ظلم کولو سره نه یوازی دا چی یتیمان یی نه اکرامول ، بلکه یتیم د دوی په وړاندی هیڅ ارزښت نه درلود او تل به یی دوی په خواری ، سستی بی وزلی او فقر سره یادول.

د اسلام مقدس دین پلوشو راځلیدو سره ، جاهلیت له منځه ولاړ او د اسلام سپیڅلي او ښکلي نظام د تورتم ، جاهلانه اخلاقو ، ناوړه رواجونو ځای ونیوه او یتیم ته ځانګړی مقام او درناوی په برخه شو. د اسلام مقدس دین ، د یوه جامع ، کامل الهي دین په توګه تل د ټولنې د د کمزورو ، بې وزله ، مستضعف او محرومو خلکو حمایت کړی دی چې په دې لړ کې یي یتیمان تر نورو زیات د عطوفت او مهربانۍ مستحق ګرځولي دي.

د یتیمانو سره د مرستي او کومک په اړه دا کافی ده چی د یتیمانو اړونده حکمونه او موضوعات په قرآن کریم کې (۲۳) ځله ذکر شوي دي.

قرآن کریم د یتیمانو پالنه او ورسره مرسته کول د ډیرو مهمو موضوعاتو څخه بولي او مؤمنان یي دیته هڅولي؛ تر څو په ټولنه کې هیڅ یتیم داسي پاته نشي چې ورته پاملرنه او پالنه نه وي شوی.

داسلام ځلانده تاریخ ددې شاهد دی چې په اسلامي حکومتونو کې له بیت المال څخه د یتیمانو دحمایت لپاره یوه اندازه پیسې ورته ورکول کیدی.

پیغمبرعلیه السلام عملا د یتیمانو کفالت او پالنه کوله.

داسلامي هدایاتو په اساس فقهاؤ په فقهي مصادرو کې دیتیمانو مربوط بې شمیره مسائل او احکام بیان کړي دي.

دا ټول ددې خبرې واضح دلیل دی چې په اسلام کې د یتیم او یتیمانو موضوع خورا مهمه موضوع ده او د یتیمانو د حقوقو څخه حمایت او دهغوی کفالت ضروري خبره ده.

| |
|---|
| د یتیمانو پالنه او دوی سره مرسته تنها د نظام(امارت) مسئولیت نه دی؛ بلکې د دوی د اولیاؤ د ټولو نږدې خپلوانو لکه: نیکه، نیا، تره، بالغ ورور، خور، ماما، وریرونه، د تره زامن ، د ماما زامن، وصی، قیم او او عام ولس په دې کې مسئولیت لري. دوی ټول مسئولیت لري ترڅو د یتیمانو د خوراک، څښاک، پوشاک او صحت په اړه خپل ایماني او اخلاقي مسئولیت رفع کړي. |

امام نووي رحمه الله د یتیم د کفالت په برخه کې فرمایي: (كَافِلُ الْيَتِيمِ الْقَائِمُ بِأُمُورِهِ مِنْ نَفَقَةٍ وَكِسْوَةٍ وَتَأْدِيبٍ وَتَرْبِيَةٍ وَغَيْرِ ذَلِكَ وَهَذِهِ الْفَضِيلَةُ تَحْصُلُ لِمَنْ كَفَلَهُ مِنْ مَالِ نَفْسِهِ أَوْ مِنْ مَالِ الْيَتِيمِ بِوِلَايَةٍ شَرْعِيَّةٍ وَأَمَّا قَوْلُهُ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ فَالَّذِي لَهُ أَنْ يَكُونَ قَرِيبًا لَهُ كَجَدِّهِ وَأُمِّهِ وَجَدَّتِهِ وَأَخِيهِ وَأُخْتِهِ وَعَمِّهِ وَخَالِهِ وَعَمَّتِهِ وَخَالَتِهِ وَغَيْرِهِمْ مِنْ أَقَارِبِهِ وَالَّذِي لِغَيْرِهِ أَنْ يَكُونَ أَجْنَبِيًّا ) شرح النووي

**ژباړه :** دیتیم کفالت کوونکی؛ هغه چاته ویل کیږي چې د یتیم د کارونو سرپرستي کوي؛ لکه: د یتیم نفقه، جامه ، تربیه او نور اړین کارونه ترسره کوي. دا فضیلت د هغه چا په برخه کیږي چې د یتیم کفالت د خپل مال څخه اجرا کوي او یا هم په شرعي ولایت سره د یتیم کفالت د یتیم د مال څخه اجرا کوي. ځینې وخت دیتیم کفالت دیتیم د نږدې خپلوان کوي لکه: د یتیم نیکه، د یتیم مور، د یتیم نیا، د یتیم ورور، د یتیم خور، د یتیم تره، د یتیم ماما، د یتیم دپلار طرفه ترور، د یتیم د مورطرفه ترور او نور خپلوان او ځینې وخت د یتیم کفالت پردي خلک کوي.

صحابه کرام به د یتیمانو په حضانت، ساتنه او پالنه کې یو له بل څخه مخکې کیدل او د یتیمانو څخه به یې د خپلو بچو په شان حفاظت کاوه او ورسره به یي نیکي او مرسته کوله او په اسلامي امت کې دا غوره اخلاق تر ډیرې زمانې

پورې جاري ؤ، کله چې کفري استعمار د مسلمانانو کلو او ښارونو ته وردننه شو د مسلمانانو څخه يي دا اخلاق واخيست. [مجلة مجمع الفقه الإسلامي ]

**د يتيمانو د مرستي او پالنې په اړه قرآني لارښوني:**

الله تعالى فرمايي چې يتيمانو سره ښه چلند وکړئ او ښه خبره ورته کوئ : {وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا} النساء:٥

**ژباړه :** او (يتيمانو ته ددوی له مالونوڅخه) روزي غذا او خوراک ورکړئ، لباس ورته ور واغوندئ او ورته غوره او خوږی خبرې وکړئ .

الله تعالى د هغه چا قباحت بيان کړی دی چې يتيمان زو روي او هغوی تيل وهي : { أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ، فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ، وَلاَ يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ} الماعون : ١-٣

**ژباړه :** آيا تا وليده هغه څوک چې د آخرت جزا او سزا ته دروغ وايي؟ دا هماغه څوک دی چې يتيم تيل وهي او د مسکين د ډوډۍ په ورکړه کې هڅونه نه کوي .

الله تعالى فرمايي:{إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا} النساء : ١٠

**ژباړه :** يقيناً کوم کسان چې په ظلم سره د يتيمانو مالونه خوري په حقيقت کې هغوی خپلې ګېډې له اوره ډکوي او هغوی به ارومرو د دوزخ تاوجن اورته ورننوځي .

الله تعالى فرمايي: { فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلاَ تَقْهَرْ} الضحي : ٩

**ژباړه :** نو پر يتيم باندې قهر او غوسه مه کوه .

په يو بل ځای کې الله تعالى فرمايي :{وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلاَحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ } البقرة: ٢٢٠

**ژباړه :** او له تانه (خلک) پوښتنه کوي چې له يتيمانو سره دې بايد څه ډول چلن وشي ؟ دوی ته ووايه! په کوم ډول چلن کې چې د هغوی ښېګڼه وي ، هماغه غوره کول ډېر ښه دي.

په قرآن کريم کې الله تعالى ځينې بندګان د ( ابرارو) په نامه ياد کړي دي چې د دوی خصلت د يتيمانو، مسکينانو او اسيرانو سره نيکي کوي او ورته خواړه برابروي.

الله تعالى فرمايلي دي:{إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاء وَلَا شُكُورًا} الانسان: ٥-٩

**ژباړه :** په يقين سره ابرار نيکان به يی دهغه جام نه وڅښي چې په کافور سره به خوشبو يه شوی وي ، چينی به وی چې وبه څښي ورڅخه د الله تعالى خاص بندګان او هر چيری چې وغواړي ورته جاري به وي ، دوی پخپلو نذرونو باندی وفا کوله او د هغی ورځی له عذابه ويريدل چې عذاب يی خور وي او پخپل زړه او خوښه سره او يا دا چې پخپله يی ورته ضرورت هم لره خو د دی سره سره يی يتيمانو ، مسکينانو او اسيرانو ته خپل خواړه ورکول او دا به يی ويل چې موږ دا خواړه يوازی د الله په خاطر تاسوته درکوو او د دی په بدل کی تاسونه هيڅ بدل او شکرانه نه غواړو .

**د يتيمانو په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سپارښتنه:**

داسلام ستر پيغمبر د يتيمانو پالنی په اړوند سپارښتنه او تأکيد کړی دی او اسلامي امت ته يی د دوی د حقوقو په اړه لارښونه کړی ده .

امام احمد بن حنبل پخپل مسند کې یو حدیث را نقل کړی دی چې په کې د یتیمانو په اکرام امر شوی دی: عَنِ السَّائِبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ، قَالَ : جِيءَ بِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ جَاءَ بِي عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ ، وَزُهَيْرٌ ، فَجَعَلُوا يُثْنُونَ عَلَيْهِ ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لاَ تُعْلِمُونِي بِهِ قَدْ كَانَ صَاحِبِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ قَالَ : قَالَ : نَعَمْ . يَا رَسُولَ اللهِ ، فَنِعْمَ الصَّاحِبُ كُنْتَ ، قَالَ : فَقَالَ : يَا سَائِبُ انْظُرْ أَخْلاَقَكَ الَّتِي كُنْتَ تَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَاجْعَلْهَا فِي الإِسْلاَمِ ، أَقْرِ الضَّيْفَ ، وَأَكْرِمِ الْيَتِيمَ ، وَأَحْسِنْ إِلَى جَارِكَ) مسند أحمد

ژباړه : سائب بن عبدالله وايي د مکی د فتحی په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وروستل شوم... رسول الله وفرمایل : ای سائبه ! خپلو اخلاقو ته پاملرنه وکړه هغه اخلاق چې د جاهلیت په زمانه کې دې درلودل په اسلام کې هم په هماغه خویونو پابند اوسه، د میلمه درناوی کوه ، د یتیم اکرام کوه او د ګاونډي سره نیکي کوه.

په یو بل حدیث کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بينهما». البخاري
ژباړه: زه او د یتیم پالونکی ( سرپرست ) به په جنت کې داسې سره یو ځای یو او د اشارې او منځنۍ ګوتو ته یې اشاره وکړه او دواړه یې لږ سره جلا کړې .

امام ابن بطال رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وایي: (څوک چې دا حدیث واوري ورباندې لازم دي چې عمل پرې وکړي ترڅو د پیغمبرعلیه السلام سره په جنت کې ملګری شي او په آخرت کې ددې څخه بله لوړه مرتبه نشته). [فتح الباري - ابن حجر ۱۰/ ٤٣٦]

رسول الله صلی الله علیه وسلم به تل دا تاکید کاوه چې د یتیمانو سره ښه چلند وکړئ ، په ځینو روایتونو کې راغلي دي چې رسول الله صلی علیه وسلم د یتیمانو د حقوقو خوړلوڅخه په شدیدو الفاظو څخه منع کړی ده.

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : «اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ : اليَتِيمِ وَالمَرأةِ» ابن ماجه
ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : ای الله ! زه د دوو بیوزلانو د حق خوړل حرام ګرځوم پرخلکو، د یتیم حق او د کونډې حق.
په یو بل حدیث کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ قَالَ : (خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ ، وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ) سنن ابن ماجة

ژباړه: ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په مسلمانانو کې بهتره کورهغه دی چې په کې د یتیم سره نیکي کیږي او د مسلمانانو په کورونو کې بد کور هغه دی چې د یتیم سره په کې بدي کیږي.

**د یتیمانو په وړاندی زمونږ دنده:**

**۱ــ یتیم سره مینه او محبت کول:**

مینې او محبت ته هر انسان اړتیا لري خو دغه ضرورت په ماشومانو کی زیات وي او دغه اړتیا په والدینو پوره کېږي تړاو لري او ددوی په وسیله حل کیږي خو یتیم په کوچنیوالي کې د دی نعمت څخه محروم وي نو له همدې کبله په اسلام کې د یتیم سره په محبت او محبت سره لوی اجر او ثواب ترلاسه کیږي .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یو شخص رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خپل زړه د سختوالي څخه شکایت وکړ پیغمبرعلیه السلام ورته ورفرمایل: عَن أبي هريرة رضي الله عنه : أَنَّ رَجُلاً شَكَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَسوَةَ قَلبِهِ فَقَالَ لَهُ: « إن أرَدتَ أن يلينَ قَلبُکَ؛ فَأَطعِمِ المِسكِينَ، وَامسَح رَأسَ اليَتِيمِ» رواه احمد
ژباړه: که چیرې غواړې چې زړه دې نرم شي مسکین ته خوراک ورکړه او د یتیم په سر د شفقت لاس را کش کړه .
۲ ــ **د یتیم د مال ساتنه:** د یتیم سرپرست او پالونکي ته په کاردي چې د یتیمانو د مالونو ساتنه او حفاظت وکړي.

الله تعالی فرمایلي دي چې د یتیم مال ته نږدې هم مه ورځئ: {وَلاَ تَقْرَبُواْ مَالَ الْيَتِيمِ إِلاَّ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ} الاسراء: (۳۴)

ژباړه: او مه نږدې کیږئ د یتیم مال ته مګر په هغه طریقه سره چې ډیره غوره ده، ترڅو خپلې میراني ته ورسیږي.

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: (إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا) .النساء: ۱۰

ژباړه : هغه کسان چی دیتیمانو مالونه په ظلم خوری نو خامخا به دغه مالونه د دوی په ګیډو کی په اوربدل شي او زر ده چي اور کی به واچول شي .

الله پاک فرمایي : (وَآتُواْ الْيَتَامَى أَمْوَالَهُمْ وَلاَ تَتَبَدَّلُواْ الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا).النساء: ۲

ژباړه : او د یتیمانو مالونه د دوی د بلوغت نه وروسته دوی ته ورکړئ او خپل بیکار مال د دوی په ښومالونو باندی مه بدلوی او د دوی مالونه د خپلو مالونو سره ګډمه خورئ ، چی دا کارلویه ګناه ده.

**۳ – د یتیم سرپرستي کول:**

د یتیمانو پالنه او ورسره مرسته کول داسلامي ټولنې مسئولیت دی. داسلام د غوره اخلاقو له جملې څخه د یتیم سرپرستي او پالنه ده.

یتیم چې عموما ناتوانه او بیې وزله وي او ډیرې اړتیاوې لري، یتیم ته نفقه برابرول، د هغه ته د تن جامې چمتو کول او ورسره د ژوند په کارونو کې مرسته کول د هرمسلمان ایماني دنده او مسئولیت دی؛ ځکه چې په نصوصو کې د یتیم د سرپرستۍ ډیر فضیلت بیان شوی دی چې هرچا ته شاملیږي. د اسلامي فرهنګ له مخی د یتیمانو د ضرورتونو لری کولولپاره ښه لاره داده چی یتیم ماشوم د کورنۍ یو جز او غړی وګرځول شي او مرسته او کومک ورسره په محترمانه توګه ترسره شي؛ تر څو دوی د حقارت او کمۍ احساس ونکړي.

**۴ –په یتیمانو باندې د ظلم کولو څخه ځان ساتل:**

د هر انسان په وړاندی ظلم کول خورا ناوړه عمل بلل کیږي ، خو ظلم د ماشومانو په اړه هغه هم چی یتیم وي ډیر بد او ناوړه عمل او لویه ګناه ده لکه چی په مبارک آیت کې راغلي :{أرایت الذي یکذب بالدین ، فذلک الذي یدع الیتیم ولا یحض علی طعام المسکین}الماعون: ۱-۳

ژباړه : آیا وینې ته هغه کس چې د آخرت د ورځې تکذیب کوي، پس دا هماغه کس دی چې یتیم ټیل وهي او نورخلک مسکین ته په ډوډۍ ورکولو باندې نه هڅوي.

**۵– د یتیم درناوی او ور سره احسان کول.**

د یتیم سره محبت ، احسان او مرسته کول داسی یوه مسئله ده چې د آیتونو او احادیثو نه راجوتیږی او که څوک د دغه الهي فرمان نه سرکشي کوي نو لری نه ده چې ددغه لاندې آیت مصداق به وګرځي. تعالی فرمایي : (کلا بل لا تکرمون الیتیم و لا تحاضون علی طعام المسکین).الفجر: ۱۷-۱۸

ژباړه: بلکې خبره داسې نه ده، تاسو (هغه خلک یاست) چې د یتیم عزت او درناوی نه کوی او د مسکین ته په طعام ورکولو باندې ځان او نور نه هڅوی.

**د یتیم پالنې اجرونه:**

**۱: په جنت کې میشت کیدل:**

په مختلفو احادیثو کې راځي چې جنت د هغه چا لپاره تضمین شوی دی چې یتیم ته یې ځای ورکړی وي.

**۲: د زړه نرم والی او د حاجت پوره کیدل :**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : (أتحب أن یلین قلبک و تدرک حاجتک ؟ ارحم الیتم وامسح رأسه و أطعمه من طعامک یلین قلبک و تدرک حاجتک ). [جامع معمر بن راشد]

ژباړه : آیا دا خو ښوی چی زړه دې نرم او غوښتنی دې پوره شی ؟ نو په یتیم باندی رحم وکړه او په سرېي د شفقت لاس راکش کړه او هغه ته له خپله طعامه خواړه ورکړه زړه به دې نرم شي او حاجت به دې پوره شي.

**۳ـ د درجاتو لوړوالی او د ګناهونو محوه کیدل:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : (وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لاَ يَلِي مُسْلِمٌ يَتِيمًا فَيُحْسِنُ وِلايَتَهُ فَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ إِلاَّ رَفَعَ اللَّهُ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ دَرَجَةً وَكَتَبَ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةً وَمَحَا عَنْهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَيِّئَةً) [بغية الباحث عن زوائد مسند الحارث للهيثمی (۲/ ۸۵۲]

ژباړه : قسم په هغه ذات چی د محمد-صلی الله علیه وسلم- روح د هغه په (ید بلاکیف) لاس کې دی، یو مسلمان د یتیم سرپرستي نه کوي، چې دهغه ښه پالنه وکړي او د هغه په سر د مهربانۍ لاس راکش کړي مګر الله پاک به یې د هر ویښته چې د ده د لاس لاندې دي په هغه اندازه به یې درجات لوړ کړي او د هر ویښته په اندازه به یې حسنات زیات کړي او دهر ویښته په اندازه به یی ګناهونه وبخښي

**د یتیمانو سره د مرستې او دهغوی د پالنې ګټې:**

د یتیم د پالنې ځینې ګټې په لاندې ډول دي:

۱-د یتیم پالنې دومره شرف او فضیلت بس دی چې د یتیم پالونکی به د پیغمبرعلیه السلام سره په جنت کې د یوځای وي.

۲-د یتیم د پالنې اجر هغه وخت دوه چنده کیږي چې یتیم د خپلوانو له جملې څخه وي.

۳-د یتیم پالنه او ورته نفقه تیارول د پاک زړه او سالم فطرت دلیل دی.

۴-د یتیم پالنه او دهغه په سر د مهربانۍ لاس کش کول د یتیم زړه خوشحاله کوي، زړه نرموي او د زړه څخه سختوالی لرې کوي.

۵-د یتیم پالنه د آخرت له اجر څخه علاوه په دنیا کې هم زیاتې ګټې لري.

۶-د یتیم پالنه دداسې ټولنې په جوړښت کې برخه اخیستل دي چې د هر ډول نفرتونو، کینو او کرکو څخه پاکه وي ، محبت او مینه په کې زیاته وي.

۷-د یتیم پالنه د پیغمبرعلیه السلام سره د محبت ښکارندوینه کوي.

۸-د یتیم پالنه د مسلمان مال پاکوي.

**یتیمانو ته د نه پاملرنې پایلې:**

۱. برکات به یې له ژونده واخستل شي؛
۲. آسماني ورکړې او نعمتونه کمیږي؛
۳. د محبت او مهر بنسټ له منځه ځي.
۴. په ټولنه کې به نفرت ، حسد او کرکې زیاتې شي.
۵. په یتیم باندې ظلم کوونکی به دوزخ ته ځي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته